# شتمنی SHTAMANI

اوونیزه

تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت


**د استغفار ویلو ګټې**

د حدیث شریف ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل؛ څوک چې ډېر استغفار وایي؛ الله تعالی به ئې له هر ډول تنګ لاسۍ خلاص کړي، له هر غمه به خلاصون ورکړي او له داسي ځایه به روزي ورکړي، چې د ده په ګومان کې هم نه وي.

[سنن ابي داود(۱۵۱۸)]

(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)


جمادی الاول ۲۵ -۱۴۴۷ل س | د لړم ۲۵ -۱۴۰۴ل ل | د نومبر۱۶-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۵٤ ګڼه| ٤ مخیزه | ۱


## سرمقاله

### استراتیژی سرمایه‌گذاری کلید موفقیت مالی

سرمایه‌گذاری یکی از مهم‌ترین جنبه‌های مدیریت مالی است که می‌تواند به افزایش ثروت و تأمین آینده مالی افراد کمک کند. برای دستیابی به موفقیت در سرمایه‌گذاری، داشتن یک استراتیژی منظم و منطقی بسیار مهم و ضروری است. اولین گام در هر استراتیژی سرمایه‌گذاری، تعیین اهداف مالی است. این اهداف باید مشخص، قابل اندازه‌گیری، عملی و واقع‌بینانه باشند. آیا شما قصد دارید برای خرید خانه، پرداخت هزینه‌های تحصیلی فرزندان یا تأمین مالی دوران بازنشستگی سرمایه‌گذاری کنید؟ فهمیدن اینکه چه اهدافی دارید و در چه زمانی می‌خواهید به آن برسید، می‌توانند به شما در انتخاب نوع سرمایه‌گذاری مناسب کمک کند. قبل از شروع به سرمایه‌گذاری، باید وضعیت مالی فعلی خود را با دقت ارزیابی کنید. این شامل بررسی درآمد، هزینه‌ها، (مقروضیت ها) و پس‌اندازها می‌شود. آیا شما قرض های سنگینی دارید که باید قبل از سرمایه‌گذاری پرداخت کنید؟ یا آیا مقدار کافی پس‌انداز دارید که بتوانید بدون نگرانی از وضعیت مالی، سرمایه‌گذاری کنید؟ یکی از اصول کلیدی در سرمایه‌گذاری، تنوع است. نباید تمام سرمایه خود را در یک نوع دارایی یا بازار سرمایه‌گذاری کنید. با تنوع بخشیدن به سبد سرمایه‌گذاری خود (مانند سهام، اوراق قرضه، املاک و مستغلات و...) می‌توانید ریسک را کاهش دهید و شانس رسیدن به بازدهی بالاتر را افزایش دهید. هر نوع دارایی رفتار و سیر مشخص خود را دارد و ممکن است در شرایط مختلف اقتصادی، نوسانات متفاوتی را تجربه کند. پس از تعیین اهداف و شرایط مالی و همچنین ایجاد تنوع، لازم است که به تحلیل و انتخاب دارایی‌های مناسب بپردازید. این مرحله شامل بررسی بازار، تحلیل شرکت‌ها (در صورت سرمایه‌گذاری در سهام) و مطالعه روندهای اقتصادی است. ابزارهایی مانند: تحلیل ثروت (دارایی)، تحلیل بنیادی و تحلیل تخنیکی می‌توانند در این مرحله به شما کمک کنند. مدیریت ریسک (خطرات) بخشی جدایی‌ناپذیر از استراتیژی سرمایه‌گذاری و پس انداز است. همیشه احتمال از دست رفتن سرمایه وجود دارد و بنابراین باید تدابیری برای کاهش این ریسک‌ها اندیشید. این می‌تواند شامل استفاده از بیمه‌های سرمایه‌گذاری، تعیین حد ضرر و همچنین تنوع بخشی در سبد سرمایه‌گذاری باشد. سرمایه‌گذاری یک فرآیند مداوم است و نیاز به ارزیابی منظم دارد. شما باید به طور دوره‌ای سبد سرمایه‌گذاری خود را بررسی کنید و نتایج آن را با اهداف مالی خود مقایسه کنید. اگر بازدهی سرمایه‌گذاری‌ها مطابق انتظار نیست یا اگر شرایط بازار تغییر کرده است، ممکن است نیاز باشد که استراتیژی و رویکرد تان را تغییر دهید. در نهایت، موفقیت در سرمایه‌گذاری نیازمند استراتیژی‌ای دقیق و منطقی است. با تعیین اهداف واضح، ارزیابی وضعیت مالی، تنوع بخشی به سبک سرمایه‌گذاری، مدیریت ریسک و ارزیابی مداوم، می‌توانید چانس موفقیت مالی خود را به طرز قابل توجهی افزایش دهید. به یاد داشته باشید که سرمایه‌گذاری نباید یک عمل سرسری باشد؛ بلکه باید با دقت و اطلاعات کافی انجام شود.

**با احترام**

**اداره**

## اسلامي پراختیایي بانک په کابل کې د زړه ناروغیو د درملني معیاري روغتون جوړوي




د مالیې وزارت د پالیسۍ معینیت د پرلپسې هڅو او اغېزمنو بحثونو په پایله کې اسلامي پراختیایي بانک (IsDB) په بشپړ ډول دې ته چمتو سوی، چې په کابل کې د (۲۴) میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د زړه ناروغیو د درملني یو (۱۰۰) بستریز معیاري روغتون جوړ کړي. د اسلامي امارت له بیا حاکمیت را وروسته د روغتیا په برخه کې دا لومړنۍ ستره او بنسټیزه پروژه ده، چې د مالیې وزارت د فعاله هڅو په پایله کې د اسلامي پراختیایي بانک له لوري عملي کېږي. د مالیې وزارت او د اسلامي پراختیایي بانک له لومړنۍ همغږۍ او هوکړې وروسته؛ یاده پروژه له اړوندو امارتي ادارو سره شریکه سوې ده، چې اوسمهال د مالیې وزارت، اسلامي پراختیایي بانک، قراردادي شرکت او اړوندو امارتي ادارو د ټاکل سویو ګډو کمېټو له لوري د دغې پروژې د لومړنۍ سروې، نقشې او ډیزاین جوړولو چاري پیل سوي، چې د (٦) میاشتو په موده کې به بشپړې سي. د یادولو ده، چې د دې معیاري روغتون په جوړېدلو سره به د زړه او سینې ناروغانو درملنه په کور دننه په کم لګښت سره کېږي او همداراز به په دې روغتون کې د تخصصي زده کړو اسانتیاوې هم برابري سي.

## د لومړۍ درجه ولایتونو له مستوفیانو سره ناسته وسوه



د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ او د عوایدو لوی رئیس، ددې ریاست د مرستیالانو، د اړوندو ریاستونو د رئیسانو او د کندهار، ننګرهار، بلخ، هرات او کندوز د مستوفیانو په ګډون د مرکزي او ولایتي ادارو سره د همږغۍ د زیاتوالي په موخه ناسته وسوه. په پیل کې د ګمرکونو او عوایدو معین پر امانتدارۍ د ټینګار ترڅنګ د ولایتي او مرکزي ادارو سره د همږغۍ او د پیاوړي اقتصاد پر ارزښت خبري وکړې. نوموړي زیاته کړه، هر نظام د بقا له پاره پیاوړي اقتصاد ته اړتیا لري موږ او تاسي به هڅه کوو، چې شته ستونزې پر وخت حل کړو، عوایدي فرصتونه وپېژنو او ملي بودیجه له داخلي عوایدو څخه په ښه توګه ترلاسه کړو؛ ترڅو ولس ته غوره خدمات پر وخت وړاندي کړو. د عوایدو لوی رئیس الحاج مولوي سفر محمد سحر هم د مستوفیتونو او ولایتي ادارو تر منځ همږغي مهمه او ضروري وګڼله وې ویل، چې د ادارو تر منځ همږغي د پرمختګ او اداري هدفونو ترلاسه کولو له پاره خورا اړینه ده. په دې ناسته کې د پنځو لومړۍ درجه مستوفیتونو مقایسوي راپور له وړاندي کېدو سربېره، د عوایدو د زیاتوالي، د نویو عوایدي فرصتونو، د مستوفیتونو د چارو پر وړاندي خنډونو او پر یو شمېر نورو مهمو موضوعاتو هر اړخیز بحث وسو.

## له پاکستان څخه د را واردېدونکو درملو د محصول په تړاو د مالیې وزارت خبرتیا!

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د هدایت پر بنسټ؛ د مالیې وزارت له (۲۱/۵/۱۴۴۷) نېټې څخه تر راتلونکو درېیو میاشتو پوري له پاکستان څخه را وارېدونکي درمل محصولوي او تر یادو درېیو میاشتو وروسته را واریدونکي درمل نه محصولوي. په دې توګه له پاکستان هیواد څخه د درملو ټولو را واردوونکو سوداګرو ته په درنښت خبر ورکول کېږي، چې تر راتلونکو درېیو میاشتو پوري خپلي اړوندي سوداګریزي معاملې تصفیه کړي او په جدي ډول له بدیلو لارو څخه کار واخلي. د افغانستان اسلامي امارت دغه پرېکړه هیواد ته د ټیټ کیفیت درملو له را واردولو څخه د مخنیوي په موخه کړې ده او سوداګر باید د بدیلو لارو او د لوړ کیفیت درملو پر را واردولو تمرکز وکړي. د یادولو وړ ده، چې مالیې وزارت د هیواد په ټولو ګمرکونو کې د کورنیو او بهرنیو سوداګرو له پاره د پام وړ اسانتیاوي برابري کړي دي او له بدیلو لارو څخه د لوړ کیفیت درملو د را واردولو په برخه کې به هم لا زیاتي اسانتیاوي برابري کړي.






د عوایدو لوی ریاست استازو د کندهار په 'انار ملي او نړیوال ننداړتون' کې ګډون وکړ

م ۲



د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د همغږۍ ناسته وسوه

م ۲



وزارت مالیه با ثبت الکترونیکی کُتُبِ املاکی، تحول بزرگ در مدیریت املاک به وِجود آورد

م ۳



د هیواد له لومړۍ او دوهمه درجه مستوفیتونو سره انلاین ناسته وسوه

م ۲



راه کارهای پیشنهادی برای باز سازی و توسعه اقتصادی افغانستان

م ۳




د اروپایي ټولني او افغانستان تر منځ سوداګري مخ پر پراخېدو ده

م ٤

ښتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# د عوایدو لوی ریاست استازو د کندهار په 'انار ملي او نړیوال نندارتون' کې ګډون وکړ

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست استازو د کندهار ولایت په «دنیا سالون» کې د انار په ملي او نړیوال نندارتون کې ګډون وکړ. دغه درې ورځنی نندارتون د صنعت او سوداګرۍ ریاست له لوري د خصوصي سیکټور د هڅوني او ملي تولیداتو ته د بازارموندني په موخه د عقرب پر (۱۹) مه نېټه پرانیستل سو. په یاد نندارتون کې د عوایدو لوی ریاست استازو د مالیاتو د عامه پوهاوي په موخه ځانګړې غرفه جوړه



کړې ده، چې په دغه غرفه کې د مالیاتو اړوند کتابونه، بروشرونه، د افغانستان مالیاتي پروفایل، اخبارونه او مجلې ننداري ته وړاندي او ننداره کوونکو ته ووېشل سول.

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست تل هڅه کوي، چې له هر ممکنه فرصت څخه د خلکو د پوهاوي له پاره ګټه واخلي؛ تر څو د مالیې راټولولو بهیر لا پیاوړی، ملي بودیجه زیاته او هیوادوالو ته غوره خدمتونه وړاندي سي. دغه نندارتون به د عقرب میاشتي تر (۲۱)مې نېټې پوري دوام وکړي، چې د عوایدو لوی ریاست د استازو له لوري به ننداره کوونکو ته د افغانستان د مالیاتي نظام او مالیاتي پروسو اړوند بشپړ معلومات وړاندي سي.

# د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د همغږۍ ناسته وسوه

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د (۱۴۴۷ هـ.ق) کال د همغږۍ پنځمه ناسته د اړوندو ریاستونو د مسئولینو په ګډون د یاد معینیت د غونډو په تالار کې وسوه. په دې ناسته کې د ګمرکونو او عوایدو معینیت په اړوندو ریاستونو کې د اور وژني سیستم پر جوړولو، مراجعینو ته د لا اسانتیا رامنځته کولو په موخه په یاد معینیت کې د معلوماتو د ورکولو ځانګې پر پرانیستلو، د ولایتي ګمرکونو له پاره



د کوچنیو سکېنرونو پر پېرلو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو بحث او لازمي پرېکړې وسوې.

همداراز، د ګمرکونو او عوایدو معین په ټولو اړوندو ریاستونو کې په ځانګړې ډول د عوایدو لوی ریاست د بررسۍ او د عوایدو د مرکزي زون په ریاستونو کې مراجعینو ته د لازمو اسانتیاوو پر رامنځته کولو ټینګار وکړ او په اړه ئې مسئولینو ته لازمي سپارښتني وکړې. د یادوني وړ ده، چې د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د همغږۍ ناستي هره میاشت کېږي؛ څو ستونزي حل او رامنځته سوي اسانتیاوي و ارزوي.

# د هیواد له لومړۍ او دوهمه درجه مستوفیتونو سره انلاین ناسته وسوه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د مستوفیتونو چارو د مرستیال په مشرۍ او د دې ریاست د یو شمېر رئیسانو په ګډون د هیواد د لومړۍ او دوهمه درجه مستوفیتونو له مسئولینو سره پر لیکه(انلاین) بڼه ناسته وسوه. په پیل کې د ولایتي عوایدو د انسجام او پراختیا ریاست، د مستوفیتونو د بررسۍ له لوري د ترلاسه سویو عوایدو تحلیلي راپور وړاندي کړ، چې له مخي ئې د یادو مستوفیتونو د بررسۍ آمریتونه او عمومي مدیریتونه د عوایدي هدف



په ترلاسه کولو کې بریالي ښودل سوي ول. په دې ناسته کې همداراز، د مرکز او ولایتونو

په کچه د بررسۍ د اجراآتو د همږغۍ او یوشان کولو په موخه د بررسۍ پروسې د تشریح سربېره پر یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو هم بحث وسو او د یادومستوفیتونو د اړوندو برخو مسئولینو پوښتني، ستونزي او غوښتني واورېدل سوې، چې د مسئولینو له لوري ئې پوښتنو ته ځوابونه، ستونزو او غوښتنو ته د رسېدو ډاډ ورکول سو. د یادولو ده، چې د عوایدو لوی ریاست له لوري ورته ناستي د مستوفیتونو د بېلابېلو برخو د غښتلتیا او پراختیا په موخه ترسره کېږي.

# د عوایدو لوی رئیس د غزني له مستوفیت څخه لیدنه وکړه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج مولوي سفر محمد سحر، د غزني مستوفیت د چارو د ارزوني په موخه له یاد مستوفیت څخه لیدنه وکړه. په دې لیدنه کې د عوایدو لوی رئیس د یاد مستوفیت له مستوفي، آمرینو او اداري کارکوونکو سره وکتل او د چارو د ښه والي، د عوایدي هدف د ترلاسه کولو، سوداګرو او مالیه ورکوونکو ته د اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه ئې هغوی ته اړیني سپارښتني وکړې. نوموړي وویل، چې اسلامي امارت د ولس له منځه را پورته سوی نظام دئ، موږ او تاسو باید له ولس سره نږدې او ښې اړیکي ولرو او هڅه باید وکړو، چې سوداګرو او مالیه ورکوونکو ته د مالیاتو په برخه کې لا ډېري اسانتیاوي برابري کړو. ښاغلي سحر د یاد مستوفیت د چارو د څارني پر مهال د تخنیکي هیئت د پخوانیو سپارښتنو او لارښوونو عملي کېدل تعقیب کړل، چې د مستوفیت د همکارانو له خوا تر ډېره حده عملي سوي وې. د لیدني پر مهال د یاد مستوفیت کاري ستونزي هم واورېدل سوې، چې د عوایدو لوی رئیس ورته د حلولو ډاډ ورکړ. د یادوني وړ ده، چې د عوایدو لوی رئیس د مستوفیتونو د چارو د ارزوني، د لاسته راوړنو او ستونزو د اورېدو په موخه ولایتونو ته دا ډول سفرونه کوي.

# د تدارکاتو ریاست د مسئولینو له پاره د "بیعي په تړاو عمومي معلومات" تر سرلیک لاندي یو ورځنی سیمینار وړاندي سو

د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، د تدارکاتو ریاست مسئولینو له پاره د "بیعي په تړاو عمومي معلومات" تر سرلیک لاندي یو ورځنی سیمینار جوړ کړ. په دې غونډه کې، چې د دې وزارت خیبرهال د کنفرانسونو په تالار کې جوړه سوې وه، د دعوت او ارشاد رئیس مولوي عبدالهادي سیف الخالد، د حقوقي بورډ رئیس شیخ الحدیث محمد نعیم جمیل، د دعوت او ارشاد ریاست امام او مدرس شیخ الحدیث محمد مبین امیني، د دعوت او ارشاد ریاست امام او مدرس مولوي حیات الله ابو احمد او د تدارکاتو ریاست یو شمیر مسئولینو ګډون کړی وو. شیخ الحدیث محمد مبین امیني وویل، چې د نن ورځي سیمینار د مالیې وزارت په ګډون په هر وزارت کې د شپږ کسیزي کمېټې له پرېکړې سره سم ترسره کېږي؛ ترڅو هغه فرمانونه پلي کړي چې د امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) لخوا په رسمي جریده کې صادر سوي ول او ماده په ماده پرې بحث او خبري سوي وې. د دې کمېټې یوه پرېکړه د دې سیمینار په لاره اچول وو؛ ترڅو د تدارکاتو ریاست مسئولینو له پاره د بیعي یا پېر او پلور په اړه معلومات شریک سي. دا سیمینار به له تاسو سره د بیت المال په ساتنه، په لګښت او راپور ورکولو کې روښتیا، د بیت المال د ضایع کېدو مخنیوي، د اړمنو خلکو پاملرنه او د عامه ګټو له پاره د خورا مهمو شرعي موضوعاتو زده کولو او پلي کولو کې مرسته وکړي. مولوي حیات الله ابو احمد، د بیعي په اړه معلومات ورکړل او زیاته ئې کړه، چې بیع د خلکو ترمنځ یو له مهمو اقتصادي قراردادونو څخه ده او په ټولنیزو اړیکو کې مهم رول لري. د اقتصادي اړتیاوو پوره کول، حلال تجارت، ټولنیز عدالت، د نورو حقونو ته درناوی او د همکارۍ او تعاون په روحیه اغېز د بیعي مهم اړخونه دي او دا مسئله باید د نورو فعالیتونو په څېر د اسلامي مقرراتو په چوکاټ کې اوسي؛ ترڅو د خلکو په انفرادي او ټولنیز حالت ښه کولو کې مرسته وکړي. مولوي سیف الخالد، د خپلي وینا په ترځ کې وویل، چې د تدارکاتو ریاست یو له هغو مهمو ځانګو څخه دئ، چې د نن ورځي سیمینار (بیعي) موضوع سره ئې سر او کار دئ. (بیع) باید د اسلامي اصولو په اساس ترسره سي. کارکوونکي باید د دې شرعي اصولو او احکامو څخه خبر وي؛ ترڅو حلالي معاملې ترسره کړي او د سود مخه ونیسي. د بیعي د احکامو او اصولو پوهه د تدارکاتو کارکوونکو له پاره، نه یوازي له شریعي اړخه بلکي له مسلکي او ټولنیز نظره هم اړینه ده.

# د کندوز ولایت د ګمرک او د بلخ مستوفیت کارکوونکو ته روزنیز پروګرامونه پیل سول

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له تدریسي پلان سره سم د بلخ ولایت د مستوفیت د مالیاتي او غیر مالیاتي عوایدو (٦۳) تنو کارکوونکو له پاره (۲۳) ورځنی روزنیز پروګرام د بلخ ولایت په مستوفیت کې پیل سو. په دغه روزنیز پروګرام کې به مالیاتي قوانین، اړوند طرزالعملونه او د سیګټاس سیستم اړین موضوعات د مجربو ښوونکو له لوري په عملي او نظري ډول تدریس سي. همداارز د یادي اکاډمۍ له تدریسي پلان سره سم، د کندوز ولایت د ګمرک (۳۳) تنو کارکوونکو ته د همدې ولایت په ګمرک کې یو میاشتنی روزنیز پروګرام پیل سو، چې په ترڅ کې به ئې د ګمرکونو قانون او ګمرکي کړنلاري د مجربو ښوونکو له لوري په عملي او نظري ډول تدریس او تشرېح سي. د یادوني ده، چې د دغه پروګرامونو په ترسره کولو سره به په اړوندو برخو کې د کارکوونکو وړتیاوي لوړې او کاري پروسو کې به د پام وړ روښتیا او پرمختګونه رامنځته سي.

# د ابونصر فراهي، نیمروز او هرات ګمرکونو د کارکوونکو له پاره درېیم تعلیمي سمینار پیل سو

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له تدریسي پلان سره سم، د ابونصر فراهي، نیمروز او هرات ګمرکونو (۳۰) تنو کارکوونکو له پاره یو میاشتنی روزنیز سمینار د هرات ګمرک د کنفرانسونو په تالار کې پیل سو. په دې سمینار کې به د ګمرکونو قانون، ګمرکي طرزالعملونه، د ګمرک د بېلابېلو برخو د دندو لایحې، د وارد سویو توکو د طی مراحلو پروسه، مالیاتي کوډونه او د سنجوني څرنګوالی، د اظهارنامې او (ټي یک) فورمونو بشپړه تشرېح او نور اړوند موضوعات د مجربو ښوونکو له لوري په عملي او نظري ډول تدریس سي. د یادوني ده، چې د دغو پروګرامونو په ترسره کولو سره به د یادو ګمرکونو د کارکوونکو وړتیاوي لوړې او په کاري پروسو کې به د پام وړ روښتیا او پرمختګونه رامنځته سي.

# د کابل پوهنتون محصلینو ته د مالیاتي سیستمونو په تړاو روزنیز سیمینار وړاندي سو

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست له لوري په کابل پوهنتون کې د مالیاتو د عامه پوهاوي په موخه درې ورځنی روزنیز سیمینار وړاندي سو. په دې سیمینار کې ګډونوالو ته د مالیې وزارت د جوړښت او دندو، د مالیاتو د ډولونو، د مالیې اخیستني پروسو، د اسلامي امارت له لوري په مالیاتو کې د رامنځته سویو معافیتونو او تخفیفونو او د مالیاتو له درکه د ترلاسه سویو عوایدو د مصرف د څرنګوالي په اړه مفصل معلومات وړاندي سول. د کابل پوهنتون د اقتصاد، عامه اداري او پالیسۍ، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځیو استادانو او محصلینو دغه ډول سیمینارونه د محصلینو د عملي زده کړو او عامه پوهاوي په برخه کې ارزښتمن وبلل. محصلینو ته د لا ډېر پوهاوي په موخه د عوایدو لوی ریاست له لوري چاپ سوی د افغانستان د مالیاتو لارښود کتاب هم ووېشل سو. په پای کې د ګډونوالو پوښتنو ته د یاد ریاست د مالیاتو کارپوه په حوصله مندۍ سره ځوابونه ورکړل.

# وزارت مالیه با ثبت الکترونیکی کُتُبِ املاکی، تحول بزرگ در مدیریت املاک به وجود آورد

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان اقدام به الکترونیکی سازی کُتُبِ املاکی کرده است تا پروسه های ثبت و مدیریت اطلاعات را بهبود بخشد. این تحول دیجیتلی نه تنها دسترسی به اسناد را تسهیل میکند، بلکه اهمیت ویژه‌ای در جلوگیری از دعاوی حقوقی، اجرای صحیح قوانین و مقررات در حوزه مستغلات (اموال غیر منقول) و شفافیت در معاملات ملکی دارد. به اساس پیشنهاد وزارت مالیه و حکم شماره (۳۳۵۸) مقام عالی ریاست الوزراء امارت



اسلامی، (۱۵۲٦) کتاب املاکی از سالهای (۱۲۹۸-۱۳۴۸هـ.ش) راکه به صورت غیرمعیاری در مستوفیت کابل موجود بود، به وزارت مالیه انتقال داده و با تفکیک سال، ولایت و ولسوالی ترتیب، تدوین و ثبت سیستم گردیدند. این امر به ارتقاء دسترسی به اسناد املاکی و کاهش هزینه های چاپ و نگهداری فیزیکی، جستجوی سریع و دقیق اسناد، افزایش دقت و کاهش خطاهای انسانی و جلوگیری از جعل و تذویر آنها کمک میکند. آمریت آرشیف ریاست اسناد و ارتباط وزارت مالیه در حال حاضر پروسه اسکن و تدوین مشخصات کُتُبِ مذکور را آغاز کرده و تاکنون (۱۲٦۷) جلد از این کُتُبِ اسکن و مشخصات آنها ثبت سیستم شده است. کار بر روی متباقی کُتُب تا پایان سال جاری تکمیل خواهد شد. همچنین آمریت آرشیف وزارت مالیه به تفکیک ولایت، ولسوالي و سال، (۴۱۵) جلد کتاب املاکی و مالیه دهی را نیز اسکن و در سیستم ثبت کرده است. قابل ذکر است، که این اقدامات نشان‌دهنده عزم و اراده وزارت مالیه در بهبود و تسهیل پروسه ثبت املاک و ارتقای شفافیت در معاملات ملکی می باشد.

اوونیزه

# راه کارهای پیشنهادی برای باز سازی و توسعه اقتصادی افغانستان



نویسنده: محمد رضا "صمدی"
کارشناس ارایه طرح های اقتصادی

...ادامه

انچه تا هنوز گفتیم شاید به نحوی یک تحلیل وضعیت کلی و خلق یک تصویر کلان از چالش های کشور ما بود و معمولاً چالش ها راهای حل خویش را دارد، اما ما باید اول مشکل اصلی این کشور را در عرصه اقتصادی پیدا کنیم تا به راه حل های اصلی برسیم و در نهایت نسخه خود را تجویز کنیم. از نظر ما مشکل اصلی و اساسی افغانستان نبود ثبات و پایداری در تمام عرصه ها و به خصوص عرصه سیاسی و اقتصادی در چند دهه اخیر تاریخ ما است. به طور اوسط ما در این چند دهه هر شش سال تغییر حکومت ها را تجربه کردیم. وقتی فضای سیاسی یک کشور متشنج و متزلزل باشد سایر بخش



ها نیز از آن متأثر می شود و مستقل نمی ماند. همین طور در بخش اقتصادی مشکلات موقعیت جغرافیایی و محاط بودن به خشکه وجود دارد. جغرافیای طبیعی کشور ما کوهستانی و صعب العبور است و حوزه مشخص و متمرکز از منابع یا برعکس متکثر عظیم و قدرتمند وجود نداشت. اما در این چهار سال اخر به عنوان یک محور متحرك عمل کرده تا اقتصاد این جغرافیا را بچرخاند. ما معادن بزرگ داریم اما زیربناها و روبناهای لازم جهت استفاده از آن را نداریم در حالیکه معادن به رشد اقتصادی کمک می کند. ولی به دلیل ناپایداری، نمی تواند توسعه اقتصادی را رقم بزنیم. پس جهت رسیدن به توسعه اقتصادی و سیاسی لازم است که ما در حول یک منبع واحد یا متکثر گرد آییم که بتواند پایداری، توسعه اقتصادی و ثبات سیاسی این سرزمین را رقم زند. اگر به تاریخ بنگریم روزگاری نام این سرزمین با این منبع عظیم و تجدید پذیر گره خورده بود وآن نام و منبع چیزی نیست به جز افغانستان! عجب نام با مسمایی است، افغانستان یعنی سرزمین خورشید مانند یعنی جایکه از آنجا خورشید می برآید. چقدر ما از این منابع خدادادی و طبیعی خویش غافل بودیم اما معلوم میشود که آهسته آهسته ازین غفلت خود را رها میکنیم و به سمت خود کفایی همه جانبه قدم میبرداریم. اگر در ده های گذشته دولت مردان و مردمان این سرزمین از این نعمت های خدا استفاده می کرد بدون شك همین آفتاب ما می توانست این سرزمین را به ثبات و توسعه سیاسی و اقتصادی برساند. می خواهم بگویم که آغاز ملت سازی در این سرزمین می تواند بر محور و حول وحوش آفتاب شکل گیرند و به شگوفایی برسد. پیشنهاد می نمایم که مردم افغانستان به نام خدا آستین ها را بالا زند و اطراف آفتاب خویش را حلقه کند و حلقه یی ملت و نظام را از جنس خورشید که معروف است "چو خورشید شدی نگو این خانه ی کیست" بنا نهد و برابری، پایداری، آبادی و آزادی را افتخار خویش داند.

ادامه دارد...

# اعلانات داوطلبی


## اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظردارد، پروژه تدارك ۲۱ قلم البسه بهاری و زمستانی مورد ضرورت قوماندانی قطعه محافظت دارای تشخیصه نمبر ۱٤۰٤/MOF/ ۲۳۷۸-NCB/G را با شرکت تولید البسه حمزه رازق دارنده جواز نمبر ۸٤٦٦۱ به قیمت مجموعی مبلغ ۸،۸۰۲،۵۲۲ (هشت میلیون هشت صدو دو هزار و پنج صد بیست دو) افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.
آدرس : وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان -ریاست تدارکات، آمریت ارزیابی آفرها و خریداری پرچون- منزل دوم معینیت اداری.

## اعلان داواطلبی

ریاست عمومی املاك امارتی وزارت مالیه دوکاکین ذیل واقع منزل اول سمت جنوب تعمیر ۱۴ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شهر کابل ونساجی بگرامی را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد. مدت (۲) .
۱.یک باب دوکان نمبر ۳ نام هوتل به مساحت ۲۷،۲۰ متر مربع واقع منزل اول سمت جنوب تعمیر ۱٤ منزله سینماپامیر به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٦٤٦۰۰) افغانی
۲ دوکان نمبر ۱۰ به مساحت ٦،۲۰ متر مربع واقع منزل اول سمت جنوب تعمیر ۱٤ منزله سینماپامیر به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۰۳۰۵) افغانی کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹،۱۷۲۱۹ ۳٤،۵۱۳٤۲
۳ یک باب دوکان نمبر ٤ به مساحت ۳۷،۱۲مترمربع واقع سمت جنوب دیوار نساجی بگرامی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲۰۰۰) افغانی.
٤ دوکان نمبر ۲۱ به مساحت ۳۷،۱۲ مترمربع واقع سمت جنوب دیوار نساجی بگرامی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۷۹۰۰) افغانی کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹،۲۰۲۹۸ ۳٤،۵۲۱۷۸
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکاکین فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۲۰ /۱۴۰۴/۸ الی ۲٦/ ۸ /۱۴۰۴ به مدت (۷) روز به ریاست عمومی املاك امارتی واقع سینمای پامیر منزل چهارم تعمیر ۱٤ منزله تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس : سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله منزل ۵ مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز، شماره تماس: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷، مجلس داوطلبی ۲۷/ ۸ /۱۴۰۴ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## اعلان داواطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه تدارك وسایل تکنالوژی و فرنیچر مورد ضرورت آمریت آرشیف دارای نمبر تشخیصه ۱٤۰٤/MOF/ ۲۷۲۳-NCB/G که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان دری وپشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود ادارات امارتی و طرزالعمل تدارکات اجراء می گردد بدست آرند.
تاریخ جلسه قبل از داوطلبی:۲۹/ عقرب/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر
تاریخ مشخص آفرگشایی:۰۹/ قوس/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر
مکان: آدرس: پشتونستان وات- وزارت مالیه- کابل- افغانستان
منزل و شماره اطاق: منزل دوم تعمیر معینیت اداری، شعبه آفرگشایی
تضمین آفر مبلغ: {۵۰،۰۰۰ پنجاه هزار افغانی} بوده و صرف تضمین بانکی قابل قبول می باشد.
آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.۱
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦.
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.

## داوطلبی خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ښار په پنځمه ناحیه کوټه سنګي سیمه کې د محمد شیباني سوداګریز او هستوګنیز مارکېټ (۱۴ نمبرمغازه) په نوم یو (۱) امارتي جایداد چې مساحت ئې (۱۲۷۱) دوولس سوه یو اویا متر مربع دئ د پانګوني په موخه د عامه او خصوصي مشارکت په اساس د ازادي داوطلبی له لارې اعلان ته وسپاري، د یاد جایداد جې، پي ایس کوردینات (طول البلد ـ ٦۹.۱۱۳۹٦٦) او (عرض البلد ـ ۳۴.۵۱۴٦۵٦) دي، چې له دوه (۲) ځمکتلونو سره حد اکثر په (۱۴) څوارلس پوړونو کې جوړېږي، ټول هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې غواړي پر یاد امارتي جایداد پانګونه وکړي کولای سي چې خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپرېدو څخه وروسته د (۴۰) د څلوېښت ورځو په موده کې د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او شرطپانه د (۵۰۰۰) پنځه زره افغانیو په بدل کې تر لاسه کړي، آفرخلاصونه د مالیې وزارت خیبر د غونډو په تالار کې د اعلان د ختمېدو تر نېټې یوه ورځ وروسته په ۱۴۰۴/۹/۲۹ هـ ش نېټه ترسره کېږي.
د اعلان د خپرېدو نېټه: ۱۴۰۴/۸/۱۹ هـ ش
د اعلان د ختمېدو نېټه: ۱۴۰۴/۹/۲۸ هـ ش
د اړیکي شمیره:۰۲۰۲۹۲٤۱٦٤ د
واتسپ شمیره: ۹۳۷۹٦۷۵۷۴۸٦+
د شرطپاڼي د ترلاسه کولو پته: د امارتي املاکو لوی ریاست سینماپامیر ۱۴ پوړیزه ودانی، څلورم پوړ، د پلان او پانګوني آمریت.

# شتمني SHTAMANI

اوونيزه

زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی

د امتياز څښتن: د ماليې وزارت

مسئول مدير: عبدالقيوم نصير

مرستيال: شمس الدين عاطف

د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ويبسايټ: mof.gov.af

ايکسپاڼه: Afghanistan mof

يوټيوب: afghanistan mof

شمېره : (+)۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰






## IsDB to Construct Standard '100 – bed Cardiac Hospital' Worth $24mln in Kabul - DM for Policy of MoF

As a result of consistent endeavor and effective discussions by DM for Policy of MoF, the Islamic Development Bank (IsDB) is now fully prepared to build a standard '100 – bed cardiac hospital' for heart disease in Kabul at a cost of $24 million. This is the first major and fundamental project in the health sector after the re-establishment of the IEA (Islamic Emirate of Afghanistan), which is being implemented by the IsDB as a consequence of the active efforts of MoF. After the initial coordination and agreement of MoF, and the IsDB, this project has been shared with the relevant IEA-run bodies, and currently, the work of preparing the initial survey, map and design of this project has been launched by the 'joint committees' appointed on behalf of MoF, the IsDB, the contracting corporation and the relevant IEA-led bodies that will be completed within six months. Notably, with the construction of committed standard hospital, cardiology and pulmonology patients will be treated in Afghanistan at a low cost, and specialized training facilities will be provided in this hospital as well.

- MoF and IsDB spare no efforts for tackling health sector's obstacles.
- The project will be completed within 6 months.
- Cardiology and pulmonology patients will be treated in Afghanistan

## MoF Commences Registration of Semicentury 'Real Estate Documents', Digitizes 1267 Volumes of Real Estate Books



MoF has commenced to digitize 'real estate books' to further ensure and secure the process of recording and managing information. This digital transformation not only facilitates access to documents, but is also of particular importance for preventing legal disputes, properly implementing laws and regulations in the field of tenement/ real estate (immovable property), and transparency in civil transactions. Based on the proposal of MoF and the order (No. 3358) of Prime Ministership of IEA, 1,526 real estate books from the years '1298 - 1348' – according to Afghan calendar that were stored in a non-standard form in the Kabul Mustofiyat, have been transferred to MoF and have been registered, organized, and categorized in the system by year, province, and district basically.

The digitizing process helps in improving access to printing of real estate documents, physical security, cost reduction, fast and accurate document search, increasing accuracy, reducing human errors, and preventing fraud and interference. The sub-directorate of Archive of the Directorate of Documents and Communications of MoF has recently started the process of scanning and compiling the specifications of the aforementioned books, and so far 1,267 copies/ volumes of these books have been scanned and their specifications have been registered in the system. The scanning of the remaining books will be completed by the end of this year (Afghan calendar). The sub-directorate of Archive of MoF has also scanned and registered 415 volumes of "real estate and tax books" separated by province, district, and year. Noticeably, the measures reflect MoF' determination to accurately record property, facilitate easy access to documents, and create transparency in civil transactions.




## د اروپايي ټولني او افغانستان تر منځ سوداګري مخ پر پراخېدو ده




د ډيپلوماټ ـ THE DEPLOMAT په نوم يوې جاپانۍ رسنۍ د افغانستان او اروپايي اتحاديې تر منځ د سوداګرۍ د پراخېدو په تړاو پر خپل ويبسايټ باندې يو اقتصادي تحليل پورته کړی دئ. په دې شننه کې ليکوال لومړی د سوداګرۍ جريان بيانوي او کاږي، چې دا ډول سوداګري روانه او مخ پر پراخېدو ده. وايي پر اسلامي امارت د بنديزونو باوجود د اروپايي ټولنې او افغانستان تر منځ سوداګري د پروسږکال په پرتله زياته سوې ده. د صنعت او سوداګرۍ وزارت ويانړ اخوندزاده عبدالسلام جواد په حواله زياتوي، چې د (۲۰۲۵)ز په لومړيو (۸) مياشتو کې اروپايي هيوادونو ته د افغانستان صادرات له (۱۷) ميليونو ډالرو څخه ډېر ول، خو له اروپا څخه افغانستان ته واردات بيا شاوخوا (۱٤۳) ميليونه ډالره کېدل. ورپسې د افغانستان د سوداګرۍ او پانګوني خوني په حواله استناد کوي، چې له ننګونو سره سره په اروپايي بازارونو کې د افغاني محصولاتو زياته تقاضاء وجود لري. بيا وروسته تېرو کلونو ته پام اړوي، په (۲۰۲۳)ز کې د افغانستان او اروپايي اتحاديې سوداګري (۱٤۸) ميليونو يورو ته ورسېدله، چې د افغانستان د ټولي سوداګرۍ ٪(۳,٦) جوړوي. په (۲۰۲٤)ز کې (۳۰۲) ميليونه يورو تجارت وو، چې په کښې (۳۹) ميليونه يورو افغاني صادرات او (۲۳٦) ميليونه يورو اروپايي صادرات ول. اروپايي ټولنه د ټولي سوداګرۍ له پلوه د افغانستان (۷.) لويه سوداګريزه ملګرې وه. شنونکی په يوه بل پراګراف کې بشري مرستو ته مخ اړوي، چې وايي په (۲۰۲۵)ز کې اروپايي ټولني د ملګرو ملتونو ادارو، نړيوالو او غير دولتي سازمانونو په ګډون د ملګرو ملتونو ادارو له لاري افغانستان ته له (۱٦۱) ميليونو يورو څخه ډېري بشري مرستي چمتو کړي دي. وايي افغانستان د اروپايي ټولني له پراختيايي مرستو څخه په نړۍ کې تر ټولو لوی ګټه اخيستونکی ملک وو، چې مرستې ئې د اسلامي امارت د لومړۍ دورې له ختمېدو څخه بيا تر دوهم ځل واکمنۍ پوري (٤) بيليونو / ميليارډو يورو ته رسېږي.



### د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومې ستونزې حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړيکه ونيسئ!

اړيکه: ۲۲۱

### رياست عمومی ګمرکات وزارت ماليه هميشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!

تماس: ۲۲۱

### د شکايتونو اورېدلو آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندې ادرسونو له لاري شريک کړي.

ټليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )

برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af


شتمني اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.